مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالغفور لیوال

۲۰۱۸/۰۹/۲۷

# ښنګ

ستا د نڅا په هنر مړ یم، خو لا جنګ ساتم
په دې ډګر کې دې د ښکلي پایزیب شرنګ ساتم

چې غلي، غلي دې ګریوان ته رغړېدل په تنده
د نظر څاڅکي مې خمار پر دې اورنګ ساتم

ستا پرسیني د لونګین تر ښنګ د خوب په پلمه
زه لا تر اوسه جیب کې دوه داني لونګ ساتم

ستا شوخو ګوتو مې کاکل کې غزوني وکړې
دا ستا له قصده یې تربل دیدنه ړنګ ساتم

ګلاب پرې نه شیندم، ډیوې یې ښنګ ته نه بلوم
لا ستا د عطرو خاطره مې پر پالنګ ساتم

وناڅه، وخرخه، بېغمه اوسه نه یې پرېږدم
تا ته له هرچا نه خالي د زړګي ښنګ ساتم



«زه لا تر اوسه جیب کې دوه داني لونګ ساتم»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ